PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو گواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو گواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت شده که گفت:
از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: کسی که حج کند و فحش گوئی نکرده و فسق ننماید، مانند روزی که مادرش او را زائیده بود (بی گناه) باز می گردد. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۴ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۳ مه گڼه   چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د تله ۱۷ مه   د۱۴۳۴ هـ ق د ذوالحجه۴ مه   د۲۰۱۳ م د اکتوبر ۹ مه

د دوو لویو جهادي تنظیمونو یووالي ملت ته ښه زیرې دی

د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي مشرانو د افغانستان د ښه راتلونکي په موخه له یواځې د گډ انتخاباتي کمپاین او مبارزې د پرمخ بیولو پریکړه وکړه، بلکې پر دې خبره یې هم توافق کړې چې له انتخاباتو وروسته به هم د خپلې خاورې، عقیدې، اسلامي او ملي ارزښتونو په گډه دفاع کوي.

شهادت:
د راتلونکو ولسمشریزو ټولټاکنو په موخه دیو شمېر سیاسي ډلو او شخصیتونو ترمنځ ائتلافونه وشول.
په هیواد کې دولسمشریزو ټولټاکنو لپاره سیاسي هلې ځلې او جوړجاړي روان دي یدې لړ کې تیره اوونۍ دهیواد د دوه لویو جهادي گوندونو حزب اسلامي افغانستان او جمعیت اسلامي ترمنځ په راتلونکو ټولټاکنو کې د گډ ټیم پرسر توافق وشو.
پدې توافق کې به ډاکټر عبدالله عبدالله د ولسمشر، انجنیر محمد خان د ولسمشر د لومړي مرستیال او... پاتې ۴ مخ

پیام تبریکیه رئیس حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید اضحی

عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب و وزیر اقتصاد کشور، شورای رهبری و اعضای محترم حزب اسلامی افغانستان عید سعید اضحی را که نمونهٔ از بزرگترین آزمون در تاریخ بشریت است برای مردم مسلمان و مؤمن افغانستان که همیشه در راه برافراشتن پرچم توحید، دفاع از شعائر دینی شان، در راه حفظ کرامت انسانی قربانی های بیدریغ را متقبل شده اند، اسماعیل گونه در برابر آزمون پروردگار شان ایستاده گی نموده اند تبریک و تهنیت عرض نموده و موفقیت های درخشان شانرا بخاطر صلح، وحدت ملی، یکپارچگی، حفظ استقلال، آبادی و عمران کشور را از بارگاه ایزد منان خواهان اند.

تا باشد یکبار دیگر این ملت قهرمان ثمرهٔ خون شهدای خویش را نادیده نگرفته و بخاطر تحقق آرمان های شان که آزادی و استحکام نظام الهی بوده گام های استوار و متین را بردارند. ختم جنگ، ثبات و صلح دایمی، آزادی و سرفرازی وطن آرزوی ماست.

واکنش تند برخی سناتوران افغانستان نسبت به برگزاری لوی جرگه

واکنش برخی سناتوان کشور در مورد برگزاری لوی جرگه درحالی مطرح شد که روزگذشته حامدکرزی، در یک نشست خبری در کابل اعلام کرد "برای بحث روی امضای موافقتنامه امنیتی با امریکا تا یک ماه دیگر لوی جرگه برگزار می‌شود."

کابل، رسانه ها:
شماری از سناتوران کشور در جلسه (سه شنبه ۱۶ میزان) با برگزاری لوی جرگه، که در آن در مورد امضای موافقتنامه امنیتی بین کابل- واشنگتن بحث خواهد شد، مخالفت کردند.
آنان برگزاری این جرگه را خلاف قانون اساسی افغانستان خواندند.
محی الدین منصف، از سناتوران کشور می گوید که افغانستان به برگزاری لوی جرگه ضرورت ندارد که به گفته او،... بقیه در صفحه ۴

آینده‌ء کشور و مسؤولیت ما

فدا محمد فایض - ص ۲

دیدار جوانان حزب اسلامی شمال با مسؤولین حزب اسلامی افغانستان

حوالی ساعت ۱۰ قبل از ظهر پنجشنبه مؤرخ ۱۱/میزان/۱۳۹۲ تعداد زیادی از نماینده های جوانان حزب اسلامی افغانستان در سمت شمال با محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی و محترم انجنیر محمدخان معاون حزب اسلامی افغانستان در دفتر حزب اسلامی افغانستان ملاقات کردند.
در ابتدا برادر محترم عبدالباسط محصل سال چهارم... بقیه در صفحه ۴

قرارداد استخراج نفت و گاز حوزه افغان - تاجک به امضا رسید

"در آغاز این پروژه به تعداد ۱۰۰۰ تن مصروف کار خواهد شد و بعد از بهره برداری آن به تعداد ۱۲۰۰۰ نفر تا تداوم کار و استخراج نفت و گاز در این پروژه برای ۲۵ سال مصروف کار خواهند بود." (والی بلخ)

کابل، رسانه ها:
قرارداد استخراج نفت و گاز حوزه افغان - تاجک که ۳۱۰۰۰ کیلومتر مربع مساحت را در بر می گیرد و از جوزجان آغاز تا کندز ادامه دارد، میان مقامات ارشد وزارت معادن و پطرولیم افغانستان و... بقیه درصفحه ۴

مؤمن افغان

په راتلونکو ولسمشریزو انتخاباتو کې د ولسمشر دنه مداخلې ژمنه

په (۹۲/۷/۱۵) نېټه افغان ولسمشر حامد کرزي په یوه خبري کنفرانس کې چې په ارگ کې جوړ شوی و، ژمنه وکړه چې په راتلونکو انتخاباتو کې به د هیچا پلوي نه کوي. هغه وویل کېدای شي زه یو چا، خلیلي صیب بل چا او مارشال صیب بل چاته رایه ورکړي او دا نور خو بې له شکه نورو ته رایه ورکوي. د ولسمشر کرزی په وینا موږ له زیاتو نه زیات دومره کولای شو چې ټول سره کښېنو او په گډه تصمیم ونیسو چې دغه ټیم د نورو په تناسب ددې وړ دی چې ټول هغه ته رایه ورکړو؛ خو دا چې موږ د چا پلوي وکړو او یا دچا په مخالفت کې ودرېږو، دا هېڅکله هم نه شي کېدای.
ولسمشر پر داسې مهال دا ژمنه وکړه چې په عین ورځ د جمعیت اسلامي افغانستان د نوي مرکزي دفتر د پرانستل کېدو په مراسمو کې د بلخ والي ښاغلي عطامحمد نور پخپلو خبرو کې وویل چې...
پاتې دریم مخ

د هسکې مینې قومي مشرانو د ولسمشرۍ د نوماند او لومړي مرستیال سره ولیده

دهسکې مینې یو شمېر قومي مشرانو، دیني عالمانو او جهادي قوماندانانو دولسمشرۍ دنوماند ډاکټر عبدالله عبدالله او د لومړي مرستیال انجنیر محمدخان سره وکاته او د خپلې بشپړې همکارۍ ډاډ یې ورکړ. نوموړو مشرانو د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي پر ائتلاف خوښي څرگنده کړه او دا یې دمجاهدینو لپاره یوه ستره بریا وگڼله.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

تاسو رایه راکړئ:
موږ به سرلوړی افغانستان درکړو

د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی د مشرانو ترمنځ دا ژمنه چې نه یوازې انتخاباتي کمپاین به په کډه پرمخ وړي بلکې راتلونکی لپاره به هم د افغانستان په مهمو مسایلو کې ګډه مبارزه کوي د دواړو ګوندونو د منسوبینو او ټول مسلمان ولس لپاره خوشالوونکی زیری او دهغوی د اوږدې مودې د ارمانونو د تحقق لپاره ښه شګون دی.

د دواړو ګوندونو مطلق اکثریت ورونه په دې ائتلاف او اتحاد، نه یوازې دا چې زیات خوښ دي، بلکې دا د نورو همفکره او هم عقیده اسلامي جهادي ګوندونو د یوځای کېدو لپاره بنسټیزه ډېره بولي او هیله من دي چې پاتې اسلامي تنظیمونو ته به هم د ائتلاف دغه مبارکه لمنه پراخه او ټول به په یوه صف کې منسجم شي.

تراوسه د اسلامي ګوندونو غړو او پیروانو له خپلو مشرانو تر ټولو لویه ګیله همدا وه چې مشران یې ولې پخپلو کې د افغانستان په مهمو مسایلو او پېښو کې همغږې او یو موټې نه دي او ولې یې پخپل لاس د افغانستان ډګر د اسلام دښمنو قوتونو لپاره خلاص پرېښی ده؟

که واقعیت ته ځیر شو نو خامخا به دا ومنو چې د روسي سرو لښکرو پرخلاف شلو لکو افغانانو په دې مقصد خپلې ککرۍ نذرانه کړې چې د افغانستان سرنوشت پخپله د افغانانو په لاس کې وي، او دهغوی د خوښې مطابق یو آزاد او خپلواک اسلامي حکومت ولري، نه دا چې اسلام دښمنه قوتونه د افغانانو له تقدیر سره لوبې وکړي او افغانستان د فساد، بې دینۍ او فحاشۍ اډه وګرځوي. سره لدې چې په سلو کې ۹۵ وګړی پخپل هېواد کې منتخب اسلامي حکومت او شرعي نظام غواړي؛ مګر د اسلامي تنظیمونو د نه همغږۍ او نه همکارۍ په وجه چې له کوم حالت سره لاس او ګریوان دي زیات اندېښمن او غمګین دي.

ددې لپاره چې د شهیدانو د وارثینو او د افغانستان د مخلصو مسلمانانو دا زوړ آرمان تحقق ومومي، د جهادي مشرانو په وړاندې لدې پرته بل هېڅ معقوله لاره نه وه پاتې چې ټول سره راغونډ او د خپل مسلمان ولس د سودو ارمانونه ورژوي، حزب اسلامي او جمعیت اسلامي دهمدغه احساس له مخې یو بل ته د زړه له کومې نژدې او پخپلو کې په دې خبره سلا شوي دي چې اوسنی انتخاباتي کمپاین به هم په ګډه پرمخ وړي او راتلونکی لپاره به هم د افغانستان استحکام، اسلامي نظام او د ولس د خیر ښېګړې لپاره ګډې هلې ځلې کوي خپل ټول تېر اختلافات به شاته کوي او په یو غږ به د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس د ارمانونو د تحقق لپاره به د سالمی مبارزې ډګر ته دانګي. د دواړو ګوندونو ټولو غړو ته هم پکار دي چې ددغه ائتلاف د لاپیاوړتیا په خاطر خپلې هڅې ونه سپموي او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې داسې مثالي یووالې او همغږې قائمه کړي چې پر لیدو یې ولس ملاتړ ته لېواله او د عمل ډګر ته راودانګي.

د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي قیادتونو د خپل ولس د ارمانونو د تحقق او په هېواد کې د یو منتخب خپلواک اسلامي حکومت د قیام په خاطر د خپل خدای او ولس پر وړاندې د خپل ایماني او افغاني مسؤولیت د ادا کولو کلکه ژمنه کړې او سره تعهد یې سپارلی چې ددغه ائتلاف د پیاوړي کولو لپاره به له هېڅ ډول قربانۍ نه ډډه نه کوي؛ دواړه ګوندونه د افغانستان په هره قریه، کلي او کوڅه کې مضبوطې ریښې او حامیان لري، د افغانستان د ټولو قشرونو وګړي د دواړو یادو ګوندونو فعال غړي او متحرک کارکنان دي. په اوسنیو حساسو او نازکو حالاتو کې یوازې همدوی کولې شي چې خپل رنځېدلی ولس له موجوده بحرانه وژغوري او په هېواد کې د خپل ګران ولس د رایو په نتیجه کې یو منتخب اسلامي حکومت جوړ او افغانستان په مضبوطو بنسټونو ودروي. که څه هم د افغانستان مخلصو او ایماندارو وګړو د دواړو ګوندونو پر ائتلاف خوښي ښکاره کړې او دا یې د افغانستان د ولس او خاورې په ګټه تعبیر کړی، مګر بیا هم په افغانستان کې دننه او دباندې ډېرې داسې کړۍ شته چې د دواړو ګوندونو ائتلاف د سترګو اغزی ګڼي او په خلکو کې د خپلو بې اساسه تبلیغاتو له لارې کوښښ کوي چې ددغه ائتلاف په لار کې خنډونه جوړ کړي. ګران ولس دې خبر وي چې دا عناصر که هر څوک وي د مسلمانانو، په ځانګړي ډول په اسلامي اصولو ولاړ د منتخب حکومت دښمنان دي هغوی نه غواړي چې په افغانستان کې د اسلام بیرغ سرلوړی او د سیکولر لادیني نظام پرځای اسلامي نظام حاکم شي څکه خو د افغانستان ټولو مسلمانانو خصوصا د دواړو ګوندونو غړو او خواخوږو ته پکار دی چې ددغه ائتلاف د لاغښتلتیا او مثمر کولو په خاطر فعاله ونډه واخلي، دهغوی د هرې ناروا پرو پاګندې د شنډولو لپاره مقنع او مدلل ځوابونه ووایي، په نړیواله سطح د اسلام او مسلمانانو پرخلاف د پیل شوي سازش او حرکت څخه پرده پورته او په دې خبره دې یې پوه کړي چې که په دې حساسو شیبو کې هم مسلمانان د غفلت له خوبه را ویښ نشي او د اسلام او خاورې د قسم خوړلو دښمنانو د سازشونو د دفاع پر وړاندې په یوه منظم فولادي صف کې ونه درېږي؛ نو نه یوازې دا چې له خپلې خاورې، عقیدې او راتلونکی نسل سره به یې جفا کړې وي، بلکې د تل لپاره به یې خپله پاکه خاوره هم د سیکولرستانو پر شیطاني عقیده لړلې وي چې ددې ټولو بدبختیو د ګناه مسؤولیت به زموږ پر غاړه وي، راځئ د یو خپلواک، سوکاله، سرلوړي، پرمختللي افغانستان لپاره یو ځل بیا په ځوانه ولوله په ګډه د عمل ډګر ته راودانګو او د خپل بایللې عظمت او برم په تر لاسه کولو سره د خپلو لکونو شهیدانو د روحونو د خوشالولو ترڅنګ خپل ایماني او افغاني مسؤولیت هم په سمې معنا ترسره کړو او خپل راتلونکي نسل ته هم یو خپلواک اسلامي حکومت په میراث پرېږدو.

فدا محمد فایض

آینده کشور و مسؤولیت ما

افغانستان از مرحلهٔ بسیار دشوار تاریخ معاصر خود عبور میکند، افغانستان کشوری نیست که با تهاجم بیگانه ها و مداخلات بیگانه ها از نو آشنا میشود، بلکه این تجربهٔ تلخ را بارها پشت سر گذشتانده و در حقیقت قرنی را بیاد نداریم که کشور ما شاهد وقایع تلخ نبوده باشد؛ اما اینبار ما با حالت متفاوتی از گذشته مواجه هستیم، حضور در حدود پنجاه کشور دنیا در کشور ما، مداخلات همسایگان حقایق و واقعیتهایی است که نه خود آنها از آن انکار کرده میتوانند و نه انکار میکنند و نه هم ما میتوانیم از آن چشم بپوشیم. چنانچه چندی قبل سرتاج عزیز مشاور ارشد صدراعظم پاکستان اذعان داشت که سیاستهای گذشته ما به ارتباط افغانستان نادرست بود که امیدوار هستیم این اعتراف مقدمه یی برای اتخاذ یک سیاست مثبت به ارتباط افغانستان باشد. افغانستان با کشورهای همسایه خواهان روابط نیک و دوستانه است و میخواهد در احترام متقابل با همسایه ها بسر برد؛ ولی در مرحلهٔ کنونی مشکل افغانستان این است که هر کشوری که در افغانستان حضور دارد یا در همسایگی با افغانستان بسر میبرد، خواستهای جداگانه و متفاوتی ازین کشور غرقه بخون و جنگزده دارد؛ بحیث مثال ایالات متحدهٔ امریکا از افغانستان میخواهد که یک پیمان امنیتی و آن هم با شرایط امریکا با آن عقد نماید؛ ولی علاوه برآن که افغانستان خود درین رابطه ملاحظات مشروع خود را دارد، و بر همین اساس کشمکشها و گفتگوها درین رابطه جریان دارد که طبق آخرین اطلاعات هنوز ملاحظات مشروع جانب افغانستان بجایش باقی است؛ ولی همسایه ها درین رابطه موقف کاملاً متفاوت هم با امریکا و هم با افغانستان دارد، چنانچه برخی از کشورهای همسایه و منطقه نگرانی خود از انتقاد این پیمان را دارند و حضور دراز مدت نظامی امریکا در افغانستان را برای خود خطر جدی تلقی میکنند. امروز تنها افغانستان نه، بلکه تمام منطقه و بلکه تمام براعظم آسیا بشمول شمال افریقا تحت تهدیدها بسر میبرد که ما وضع فعلی این کشورها را از شمال افریقا تونس، مصر، سومالیا، لیبیا گرفته تا شرق میانه، افغانستان، جنوب آسیا و آسیای مرکزی مشاهده میکنیم؛ اما مرکز این بحران ها در افغانستان است. به این معنا که عمداً افغانستان را به مرکز این بحرانها تبدیل کرده اند. اگر بعد از پیروزی جهاد مقدس مردم افغانستان (۱۳۷۱) دنیا افغانستان را تنها رها نمیکرد و آتش خانه جنگی را در آن بر نمی افروخت، ملت افغانستان در بین خود هیچ مشکلی نداشت؛ ولی همین کشورهای مغرض منطقه و جهان عمداً چنین برنامه ریزی کردند که بعد از پیروزی جهاد، جنگها را بنامهای مختلف که به هیچوجه به نفع افغانستان نبود، در کشور، مشتعل سازند، که نتیجهٔ آن وضعیت کنونی شد که می بینیم.

> درین مرحله حساسی از تاریخ مسؤولیت هم احزاب سیاسی بخصوص احزاب جهادی، هم علما و روشنفکران، هم سران قومی و بالاخره فرد فرد ملت افغان است که این وضعیت را بخوبی درک کند و راه عبور موفقانهٔ کشور ازین تنگنا را بسنجد. ملت ما و بخصوص احزاب سیاسی باید از مواقف تنگ نظرانه صرف نظر کنند و با درنظر داشت ارزشهای اعتقادی و منافع ملی کشور راه مؤثری برای نجات کشور از حالت کنونی را تدارک ببینند.

ملت افغانستان مسلمان است و قبل از همه حاکمیت اسلام را در کشور خود میخواهد، هر پدیدهٔ جدیدی هم که وارد زندگی اجتماعی ما میشود باید در مطابقت با دساتیر و احکام دین مقدس اسلام باشد، در افغانستان هیچکس بر دیگران حاکم نیست و هیچکس محکوم دیگران نیست، بناءً باید همه پی تطبیق این امر برآیند که چگونه میشود اخوت اسلامی را در بین اقوام و اقشار ملت حاکم کرد و چگونه یک دست و یکصدا به توطیه هایی که نمیخواهند و نمیگذارند افراد ملت افغانستان در یک صف و با همدلی با هم بایستند قد علم کنند. من با صراحت تمام بالای ملت مجاهد خود صدا میکنم، که قضایای جاری کشور را از یک زاویهٔ محدود نگرد، بیایید از گذشته بیاموزیم و تلاش نکنیم که تجارب تلخ گذشته را که بجز زیان چیز دیگری بما به ارمغان نیاورد تکرار کنیم.

اینک ما در آستانهٔ دور سوم انتخابات ریاست جمهوری قرار داریم، کاندیداهای ریاست جمهوری همه ثبت نام کردند و این جریان بتاریخ ۱۴/۷/۱۳۹۲ پایان یافت. اینک کمیسیون مستقل انتخابات مصروف ارزیابی است و بر وقت معین لست رسمی کاندیداهای قانونی را اعلام خواهد داشت. آنانی که خود را برای ریاست جمهوری و یا بحیث معاونین کاندید کرده اند، همه چهره های شناخته شدهٔ جهادی، سیاسی و غیره کشور ما اند که میتوان آنانرا به مجاهدین، افراد دارای گرایشات غربی، و افراد بازمانده از رژیم کمونیستی تقسیم نمود. اکنون مسؤولیت فرد فرد ملت افغانستان است و هر فرد فرصت کافی پیش رو دارد تا در زمینه با حوصله مندی، بدون تعصب قضاوت نماید که کدام تیم با توجه به گذشته و یا توجه به داشتن پایهٔ مردمی و سابقهٔ مبارزاتی میتواند به کمک الهی کشور را با موفقیت از حالت کنونی عبور دهد. ما طبق حکم خداوند (ج) هر کدام مسؤول هستیم که امانت را به اهل آن بسپاریم، و ((رأی)) بزرگترین امانتی است که سرنوشت ملت به آن گره خورده است، اگر ما در ادای این مسؤولیت بزرگ دینی و اجتماعی تساهل و یا اغماض کنیم، بدون شک هر آنچه در آینده بوقوع پیوندد و بزیان کشور و ملت باشد در مسؤولیت آن سهیم خواهیم بود. کشور ما یک بحران را پشت سر میگذارد و بلکه هنوز از بحران بیرون نیامده است، فلهذا باید آیندهٔ ما متفاوت از گذشته باشد، ایجاب میکند که دیگر حقایق جای مصلحتها را بگیرد و کشور بسوی حاکمیت قانون به پیش رود، بدون شک عاقبت همهٔ امور مربوط به خداوند (ج) است؛ اما، ما هم بحیث انسانها درین راستا مسؤولیت داریم و خداوند (ج) برای ما صلاحیت ایفای نقشی را ارزانی داشته است، هر قدم گذشته باید مشعل راه آیندهٔ ما باشد.

برخیز تا بعهد امانت وفا کنیم
تقصیرهای رفته بخدمت قضا کنیم
دارالشفای توبه نبستست در هنوز
تا درد معصیت به تدارک دوا کنیم
(سعدی)

ښوونكي د ټولنې سترګې دي

خو ښوونې او جعلي استاذان دې سره جلا کړې شي

محمد خليل

په ټولنه کې د ښوونکي ارزښت له بل هر څانه زيات دی، همدا ښوونکی دی چې په برکت يې هر لور ته د علم او عرفان روښانې شمعې بلېږي، د ژوند په هر ډګر کې مثبت بدلون او پرمختګ کېږي، ډېر کړاوونو له منځه ځي او ګڼې اسانتياوې رامنځته کېږي.

نن سبا چې د روغتيا، کرنې، مواصلات، ټکنالوژي، رسنۍ، تعميراتي کارونو او ګڼو نورو شعبو کې څومره اسانتياوې او په زړه پورې پرمختګ تر سترګو کېږي، ددې تر شا د ښوونکي او استاز لوی لاس دی؛ نو څکه هر څوک د استاد په قدر او قيمت ډېر ښه پوهېږي او هر شاګرد ورته د پلار په سترګو ګوري؛ خو ډېر افسوس چې زموږ په افغاني ټولنه کې ګڼ استاذان داسې هم شته چې د استاذۍ د درانه نوم ترڅنګ د استاذۍ له خوی بوی نه هم خبر نه دي او خپل درونډ مسؤوليت په ترسره کولو کې په مطلق ډول پاتې راغلي دي، ددې پرځای چې په ټولګيو کې شاګردانو ته درس ووايي او دهغوی اذهان روښانه کړي، شاګردانو ته کورنۍ وظيفه ورکوي او بيا پرځان دومره تکليف هم نه تېروي چې ښه په غور يې وګوري، تصحيح يې کړي او دا معلومه کړي چې دا کورنۍ وظيفه يې پخپله ليکلې او که پر بل چا.

ما پخپله کورنۍ کې ګڼ ماشومان ليدلي دي چې خپله کورنۍ وظيفه يا پخپل مشر ورور باندې ليکي او يا هم په مشرې خور باندې چې اصلا ماشوم ته يې هېڅ ګټه نه رسېږي.

له بده مرغه په ليسو او ابتدائيو کې داسې مديران او سرښوونکی هم شته چې هغوی هم د استاذانو مسؤوليتونه نه تعقيبوي او دېته نه ګوري چې استاذان له خپلو شاګردانو سره خواري کوي او که څنګه؟ زموږ په سيمه کې د اناثو ليسه د څو کلو راهيسې فعاله ده او دا درېيم څلورم کال دی چې ترينه ښځينه شاګردانې فارغېږي چې څو يې زموږ د کورنۍ هم دي خو زه په قسم سره وايم چې هغوی د کتاب عبارت نشي لوستلې د ضرب او تقسيم ساده سوالونه نشي حلولې د انګريزۍ دوه ټکي نه لوستلی شي او نه هم ليکلی شي، ان د الله تعالی د سپېڅلی کتاب د قرآنکريم په لوستلو هم نه پوهېږي.

يوه ورځ راسره په موټر کې يو سړی ناست و هغه خپل څنګ ته ناست سړی ته وويل چې زوی دې په کوم ټولګي کې سبق وايي؟ هغه ورته په ځواب کې وويل: شپږم ټولګي ته رسيدلې و خو نور يې ښوونځي ته نه پرېښودم، څکه چې هغه بله شپه مې ترينه لمونځ واوريد خو ورته په ياد نه و، د لمونځ رکعتونه ورته نه وو معلوم، د قرآن کريم دوه ټکي يې نه شوای لوستلې، آخر څه ليونی خو نه يم چې د خپل ماشوم ژوند خراب کړم، اوس يې د مسجد ملا ته لېږم چې لږ تر لږه قرآن کريم او لمونځ خو ترينه زده کړي چې غاړه مې پرې بنده نشي له بده مرغه په ليرې سيمو کې داسې ښوونځي هم شته چې سرښوونکو او استاذانو ترمنځ په دې خبره جوړ جاړی شوی چې په اونۍ کې يوه ورځ راشي او خپله حاضري امضا کړي، که چېرته د ښوونځيو دا حالت وي نو له شاګردانو سره هم لوی ظلم دی او د بيت المال سره هم، نه ښايي دا حالت دوام ومومي.

زما يوه لور چې اوس په پنځم ټولګي کې سبق وايي د کتاب عبارت نشي لوستلې، ما ورته وويل بچيه! ته څنګه دويم نومره بريالۍ شوې يې؟ هغې وخندل او راته يې وويل: پلاره! نورې انجونې له مانه هم بترې دي، د ازموينې په وخت استاذ په تخته باندې سوال هم ليکي او ځواب هم او بيا شاګردانو ته وايي چې له همدېنه نقل وکئ او خپله پارچه وليکئ، دا څومره څورونکی او غموونکی ده چې استاد د ماشومانو له ژوند سره لوبې کوي او دهغوی تنکی استعداد وژني.

ډيری استاذان داسې هم شته چې هغوی اصلاً تر دوولسم ټولګي پورې درسونه نه دي ويلي چا تر شپږم پورې او چا هم تر اتم او لسم ټولګي پورې سبقونه ويلي دي خو د رشوت په ورکولو د جعلي سندونو له لارې دولسم پاسان شوي او په ډېرو ښوونځيو او ليسو کې سرښوونکي او مديرانو په توګه دندې اجرا کوي. دا ترڅو کاله وړاندې پورې يو شپږم پاس د يوه ابتدايي ښوونځي سرمعلم و چې اصلا د دويم ټولګي د استاذۍ لياقت هم نه درلود، همداراز د يوې ليسې مدير چې له موږ سره تر شپږم ټولګی پورې و او وروسته يې نور سبق ونه ويل د څو کلو راهيسې د يوې ليسې مدير په توګه دنده اجرا کوي. که په ټول افغانستان کې د دوی په څېر د نورو جعلي استاذانو واقعي پلټنه وشي نو د زرګونو په شمېر کې به داسې ښوونکي وموندل شي چې هغوی لږ تر لږه له ليسو نه هم فارغ نه دي.

په دې کې هېڅ شک او ابهام نشته چې هغه واقعي ښوونکي چې د علم او پوهې په ګاڼه سنبال دي هغوی د ټولنې د سرتاج او سترګي دي هغوی د هېواد حقيقي محسن او قيمتي پانګې دي، د هر چا په زړه کې لوی قدرت او قيمت لري او په دواړو لاسو ورته سلام کوي خو هغه استاذان چې اصلاً استاذان نه دي او د جعل له لارې يې د استادۍ لقبونه ترلاسه کړي هغوی د استادانو پر وچولي تور داغ دي، د پوهنې وزارت بايد دا جعلي استاذان له واقعي استاذانو نه جلا او له دندې ګوښه کړي او پرځای يې هغه استاذان وګوماري چې خپل درسونه سرته رسولې او ددې قابليت لري چې شاګردان د علم او عرفان په رڼا روښانه او راتلونکی لپاره د ټولنې د صحيح خدمت جوګه کړي، آخر داسې دولسم پاس به د علم په ډګر کې د کوم درد دوا شي چې لږ تر لږه خط او املا يې هم صحيح نه وي که لوړو تحصيلاتو لپاره نورو هېوادو ته ولېږل شي دهغه ځای د درس په الفبا پوه نشي او بېرته وتښتي، څرنګه چې ماشومان د هېواد د راتلونکي معماران دي نو ددې خبرې ضرورت دی چې ددوی استعدادونه وروزل شي نه دا چې ووژل شي، د افغانستان راتلونکی مسؤوليت ددوی په سر دی که ښه قابل او مستعد نسل مو ورته پرېښود نو افغانستان به د پرمختګ او سوکالۍ په لور سوق کړي او که نه نو ټول عمر به د ناپوهۍ په توره تياره کې د ګدايي او محتاجي له ژوند سره لاس او ګريوان وي، ښه به دا وي چې د پوهنې وزارت په دې اړه جدي ګامونه پورته کړي او خپل اولادونه په صحيح معنا د علم او پوهې په ګاڼه سنبال کړي. خواري کښ او قابل استاذان تقدير او د شاګردانو له سرنوشت سره لوبې کوونکي استاذان مجازات کړي.

خلص سوانح شهید جمال عبدالناصر

برادر مجاهد شهيد جمال عبدالناصر (فيضی) فرزند مرحوم الحاج سعادت خان (فيض) که در سال ۱۳۳۷ در يک خانواده متدين چشم به جهان گشود.

در سال ۱۳۴۳ شامل دوره ابتدايی در مکتب سعدالدين (انصاری) گرديد و در سال ۱۳۵۰ شامل حربی شوونځی گرديد و بعد از تحصيلات ثانوی شامل حربی پوهنتون شد و تحصيلات خويش را تا صنف سوم به پيش برد و بعداً بنابر مبارزات جهادی از حربی پوهنتون اخراج گرديد.

بنابر جذبهٔ ايمانی که داشت موصوف مبارزات جهادی خود را ادامه داد و سرانجام بتاريخ ۱۵ جوزای ۱۳۵۸ توسط دستگاه جهنمی اگسا به اتهام اخوانی بودن همرای گروپ مربوطه اش از قسمت باغ بالای کابل دستگير گرديد و بعد از يک نيم ماه از طرف ملحدين به شهادت رسيدند.

روحش شاد و يادش گرامی باد

په راتلونکو ولسمشريزو انتخاباتو کې د ولسمشر دنه مداخلې ژمنه

(د لومړي مخ پاتې برخه)

... ماته تر سلو مليونو ډالرو پورې ان چې د سپين چک وعده راکړل شوه چې دهغوی د تأييد وړ کانديد ملاتړ وکړم او ورسره لومړنی معاون شم، هغه د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې دا کانديد لامشخص نه و خو استاد سياف، ډاکتر اشرف غني احمدزی او ډاکتر زلمی رسول کېدای شوای چې ما دا وړانديزونه مانه. دغو کانديدانو ته د حکومت د کانديدانو په نظر کتل کېږي.

له دې نه پرته هم د سياسي او ژورنالستيکو کړيو ترمنځ يو لړ ګونګوسې موجودې وې او لاهم موجودې دي چې حکومت به خامخا خپل مشخص کانديد ولري او دهغه ملاتړ به کوي، که چېرې ولسمشر پر خپله همدې ژمنه ودرېږي، بې له شکه دا په نيک فال نيسو. ولسمشر له بهرنيو هېوادو نه هم وغوښتل چې په انتخاباتو کې ګوتې ونه وهي؛ خو زما په اند دا هېڅ امکان نه لري، خامخا به داسې کانديدان هم وي چې د بل چا له خوا دې ته هڅول شوي وي چې د ولسمشرۍ انتخاباتو ته ځان کانديد کړي او ښايي د مرستو ژمنې هم ورسره شوي. تر دې دمخه ولسمشر د يوه فرمان په ترڅ کې له امنيتي ځواکونو هم وغوښتل چې په انتخاباتو کې مداخله ونه کړي؛ خو اوس خبره داده چې ايا دا وزيران، واليان، ولسوالان، قوماندانان او نور چارواکي به ټول له ولسمشر سره په يوه خوله پر دې ژمنه ودرېږي چې په انتخاباتو کې به مداخله نه کوي؛ ماته خو دا تر ډېره بريده ګرانه ښکاري. که موږ په دغسې يوه وران ويجاړ حالت کې وکړای شو چې راتلونکې انتخابات ولرو، دا خو به بيا بې له شکه د ټول افغان ولس له پاره د سرلوړۍ ځای وي؛ خو وايي ګنجې

واده دې دی، ويل يې ګومان مې نه شي.

د ولسمشر بله خبره له امريکا سره د امنيتي تړون په باب وه. هغه وعده وکړه چې تر راتلونکې يوې مياشتې پورې به لويه جرګه راوغواړي او دا مسأله به ورته وړاندې کړي چې هغوی (د لويې جرګې غړي) په دې باب څه تصميم نيسي.

د يادولو وړ ده چې دولت کولای شي قراردادونه لاسليک کړي او بيا يې د تأييد يا رد له پاره ملي شورا ته واستوي؛ نو پر دې اساس د لويې جرګې تدوير ته ضرورت هم نشته، له بلې خوا کومه لويه جرګه چې په اساسي قانون کې تعريف شوې، هغه د ولسواليو د شوراګانو په نه شتون کې د دايرولو جواز نه لري. که لويه جرګه راغوښتل کېږي هم نو مشورتي لويه جرګه به وي، حال دا چې دغسې يوه لويه جرګه خو يو ځل دمخه داير شوه، او جرګې خپلې مشورې دولت ته ورکړي او ان چې امريکا ته يې د نظامي اډو د ورکولو له پاره هم دولت ته مشورې ورکړي، نو پر دې اساس ددغسې يوې جرګې دايرول ناقانونه کار هم دی او د وخت ضياع هم ده او بې ځايه لګښتونه به هم پرې کېږي.

دولت دا صلاحيت لري چې له امريکا سره د امنيتي تړون په هکله تصميم ونيسي او بيايې ملي شورا ته ور واستوي، په اوسني حساس وخت کې چې له يوې خوا د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو له پاره د انتخاباتو بهير پيل شوی پرته له دې چې د ولس پام له يوه ډېر مهم بهير نه بې ضرورته بل خواته واړول شي، بله هېڅ معنا هم نه لري او ګټه هم نه لري. ښه داده چې دولت قانون ته مراجعه وکړي او له قانون سره هم سليقوي چلندونه يوې خواته پرېښوول شي.

شهادت ورځپاڼه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
دغه ړنګ مرګ دي غوره اسد ګرګولي ياست چې پر ظلم ګواهان اوسئ

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شميري
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مسترديږي - بوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ديزاين خواجه وحيدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

دا کال ولې افغانستان ته ډير مهم دی؟

نړۍ وال، رسنۍ:
دا هغه پوښتنه ده چې (د اتلانتيک خپرونې) په خپله تازه ګڼه کې خپرلې ده او ليکي چې تر ټولو مهمه مساله د کابل او واشنګټن تر منځ د امنيتي او دفاعي تړون لاسليکول دي.
د افغانستان او امريکا تر منځ امنيتي او دفاعي تړون به دې ته لاره هواره کړي چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته يو شمير امريکايي ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي، افغان ځواکونه وروزي او د تروريستانو پرضد مشخص عمليات وشي.
د دې تړون په برخه کې مخکې څېنو راپورونو يوه اساسي ستونزه دا يادوله چې امريکا غواړي ځواکونه يې په افغانستان کې تر عدلي تعقيب خلاص وي. د دغه ټکي پر سر عراقيانو له امريکا سره مخالفت وکړ او ټول امريکايي ځواکونه له دغه هيواده ووتل.
خو د اتلانتيک خپرونه ليکي، چې ولسمشر کرزي موافقه کړې ده چې امريکايي ځواکونه په افغانستان کې تر ۲۰۱۴ م کال وروسته له عدلي تعقيبه خلاص وي.
د دې مهمې مسالې پر سر د موافقې سربېره د اختلاف يو بل ټکي د اتلانتيک خپرونې په باور دا دی چې حامد کرزي له امريکاييانو غواړي چې خپل استخباراتي اطلاعات له افغان ځواکونو سره شريک کړي، څو تر ۲۰۱۴ کال وروسته افغانانان د القاعده پرضد عمليات وکړي.
د څېنو خپرونکو په باور نسبايي دغه ډول غوښتني د افغانستان او امريکا تر منځ د امنيتي او دفاعي همکاريو د تړون مساله وځنډوي او ولسمشر کرزي مخکې څو ځله ويلي هم و چې د دې د ولسمشرۍ په وخت ممکن دغه تړون ونه شي، خو د امريکا په بوسټن پوهنتون کې د مسلمانو ټولنو او تمدنونو د انستيتوټ مشر او د افغانستان لپاره د امريکا د مطالعاتو د انستيتوټ ريس ټامس بارفيلډ ټينګار کوي چې دغه تړون ډير مهم دی او کرزي نه پکار دي چې لاسليک يې کړي:
"زما په باور هغه يوه خطرناکه لوبه پيل کړي. ځکه چې دا مساله په افغانستان کې د امريکا د پوځيانو نه ده دا له افغانستان سره د اوږدمهاله همکاريو مساله ده."
د اتلانتيک خپرونې په باور راتلونکي کال بايد د نوي افغان ولسمشر لومړي کار د امنيتي تړون لاسليکول نه وي، هغه بايد د افغانستان د امنيت په برخه کې يو ضمانت ترلاسه کړي وي.
د اتلانتيک خپرونه بيا تر ۲۰۱۴ کال وروسته له افغانستان سره د نړيوالو د ميلياردونو ډالرو مرستو دوام هم له امنيتي تړون سره تړلې ګڼي، د افغانستان لپاره د امريکا د مطالعاتو د انستيتوټ مشر ټامس بارفيلډ هم دغه دوه موضوعات په څېنو برخو کې مربوط ګڼي:
"که چيرته موافقه ونه شي، نو زما په فکر داسې به وشي چې په پوځي او ملکي برخو کې هغه مرستې چې مستقيما له عسکرو سره ارتباط نه لري، له خطر سره مخامخ شي، په ځانګړي ډول د امريکا د کانګرس مرستې. زه وايم چې افغانان دا نه خوښوي او موږ هم دلچسپي ورسره نه لرو."
د اتلانتيک خپرونه بيا د دې لپاره چې د يوه کال په موده کې د امنيتي تړون پر اهميت ټينګار وکړي، ليکي، د افغانستان د جګړې خپرونه اوس نړيوالو ته مهم نه دي، ځکه چې د بهرنيو تلفات په دغه هيواد کې لږ شوي دي او جګړې ته افغانان راوړاندې شوي دي. خپرونه بيا ليکي، که چيرته تر ۲۰۱۴ کال وروسته افغان حکومت او امنيتي ځواکونه هماهنګ وي نو کله به هم طالبان بيا واکمنان نه شي، خو دوی به دې ته اړ شي چې روغه جوړه وکړي او که طالبان خپل موجوديت غواړي نو په سياسي بهير کې به برخه واخلي.

صادرات کشور ۶۰ درصد افزایش یافته است

کابل، پژواک:
وزارت تجارت و صنایع، از افزایش ۶۰ درصد صادرات کشور در سال جاری خبر داد. این مطلب را مزمل شینواری معین وزارت تجارت و صنایع، در نمایشگاهی تحت عنوان "نمایشگاه عیدانه" که از سوی وزارت تجارت و صنایع ادارهٔ انکشاف صادرات افغانستان، به مناسبت فرارسیدن عید سعید اضحی در کابل راه اندازی شده، اظهار داشت.
موصوف علاوه کرد که در مجموع، صادرات ۴۰ درصد افزایش یافته؛ اما در بخش اقلام زراعتی ۶۰ درصد صادرات بیشتر شده است.
شینواری گفت که بخش اعظم صادرات افغانستان را میوه های خشک و تازه تشکیل می دهند؛ اما صنایع دستی، مثل قالین و سنگ های قیمتی کشور نیز در جهان بازار خوب دارند.
موصوف علاوه کرد که آنها کوشش دارند تا روابط خود را نه تنها با کشورهای همسایه بهتر سازند، بلکه تلاش دارند که صادرات محصولات افغانستان را به اروپا برسانند.
وی افزود که افغانستان یک لوگو برای شناسایی و شناخت محصولات خویش ساخته است؛ تاجران حین صادرات ازین لوگو باید استفاده کنند تا باعث رشد صادرات و اقتصاد افغانستان شود.
معین وزارت تجارت و صنایع، از تجار ملی خواست تا محصولات خوب و بهتری را صادر کنند و اگر این کار را نکنند، مارکیت افغانستان اعتبار خودرا از دست میدهد.
محمد یونس مومند عضو هیئت مدیرهٔ اتاق تجارت و صنایع گفت که چند روز پیش، نزدیک به ۲۰۰ موتر در راه سپین بولدک متوقف بود و این کار، سبب شد که تمام اموال تاجران افغان خراب شود. اما وی در مورد اینکه در موترها چه بار بود؟ معلومات بیشتر ارائه نکرد.

د دوو لويو جهادي تنظيمونو يووالې...

حاجي محمد محقق به د دويم مرستيال په توګه د راتلونکو ټولټاکنو لپاره نوماندان وي.
د حزب اسلامي او جمعيت اسلامي مشرانو د افغانستان د ښه راتلونکي په موخه نه يواځې د ګډ انتخاباتي کمپاين او مبارزې د پرمخ بيولو پريکړه وکړه، بلکې پر دې خبره يې هم توافق کړې چې له انتخاباتو وروسته به هم د خپلې خاورې، عقيدې، اسلامي او ملي ارزښتونو په ګډه دفاع کوي، ددې دواړو ګوندونو يووالې او اتفاق د افغانستان د مجاهد ولس له ټود هر کلي سره مخ شوې او غواړي چې ددې لمنه نوره هم پراخه او بالاخره هغه ورځ راورسيږي چې ټول جهادي ګوندونه تر يو چتر لاندې راغونډ شي.
نو د افغانستان مجاهد ولس او په ځانګړي توګه علماء کرام او قومي متنفذين بايد په راتلونکو ټولټاکنو کې په ټول قوت فعاله ونډه واخلي، خپل ځوانان او ټول هغه واجد شرايط افغانان چې په انتخاباتو کې د رايه ورکونې حق لري دېته وهڅوي چې دخپلو رايو په کارونه په هيواد کې دمثبت بدلون په لورګامونه واخلي او انتخاباتي ټيم دې هم پرخپلو متعهدينو غړ وکړي چې په ولاياتو کې دولسونو ترمنځ د بيدارۍ اوبدلون سوچ پيدا کړي او دېته وهڅوي چې په راتلونکو ټولټاکنو کې د برخې اخيستو په موخه دانتخاباتو کارتونه واخلي او د ټاکنو په ورځ د رای اچونې مرکزونو ته راوباسي چې دخپل سرنوشت په ټاکنه کې برخه واخلي.

واکنش تند برخی سناتوران...

پول های گزافی برای برگزاری این جرگه بی جا مصرف می شود.
او تاکید کرد که هرگونه تصمیم گیری پیرامون توافقنامه امنیتی میان "کابل - واشنگتن" باید از طریق شورای ملی افغانستان صورت گیرد.
آیت الله پروانی نیز می گوید که سند موافقنامه امنیتی بین افغانستان و امریکا جهت بررسی باید به شورای ملی فرستاده شود.
او همچنان تاکید کرد که رییس جمهور کرزی باید این سند را به شورای ملی بفرستد تا نمایندگان بعد از بررسی دقیق، در مورد امضای آن تصمیم بگیرند.
گل احمد اعظمی، از سناتوران کشور اما می گوید که برگزاری لویه جرگه برای امضای توافقنامه امنیتی با امریکا، سود افغانستان است.
به گفته او، این جرگه باید در آینده نزدیک برگزار شود.
اعظمی تاکید کرد، برای کسب رضایت بیشتر مردم افغانستان در زمینه توافقنامه امنیتی با امریکا باید لوی جرگه برگزار شود و نیز لازم است.
به دنبال آن هدایت الله رهایی، از سناتوران کشور نیز گفت که برگزاری لوی جرگه از ضرورت های اساسی افغانستان است.
واکنش برخی سناتوان کشور امروز، در مورد برگزاری لوی جرگه درحالی مطرح شد که روزگذشته حامد کرزی، در یک نشست خبری در کابل اعلام کرد: "برای بحث روی امضای موافقتنامه امنیتی با امریکا تا یک ماه دیگر لوی جرگه برگزار می‌شود."
آقای کرزی تاکید کرده بود که امضای پیمان امنیتی و تمام جوانب حضور امریکا و ناتو پس از سال ۲۰۱۴ در افغانستان، در این جرگه برسی می‌شود.
امضای موافقتنامه امنیتی با امریکا از موضوعات مهم میان کابل و واشنگتن در دو سال گذشته بوده است.
این موافقتنامه به دلیل منافع دو جانب تا هنوز امضا نشده است.

قرارداد استخراج نفت و گاز حوزه...

شرکت های استخراج کننده امضا گردید.
این قرارداد با سه شرکت افغانی غضنفر، شرکت ترکی (ترکیش پطرولیم) و یک شرکت عربی به امضا رسید.
به گفته والی بلخ که در آغاز این پروژه به تعداد ۱۰۰۰ تن مصروف کار خواهد شد و بعد از بهره برداری آن به تعداد ۱۲۰۰۰ نفر تا تداوم کار و استخراج نفت و گاز در این پروژه برای ۲۵ سال مصروف کار خواهند بود:
عطا محمد نور والی بلخ:
"در آغاز کار این پروژه ۱۰۰۰ تن و بعد از بهره برداری آن ۱۲۰۰۰ تن مصروف کار می شوند. قرار بررسی های که انجام شده در این ساحه ۵۱۴ میلیون نفت و ۹۱ میلیارد گاز طبیعی موجود می باشد."
معین وزارت معادن کشور جلیل احمد جمرانی در جریان امضای قرار داد یاد شده گفت که با استخراج نفت از این حوزه بعد از یک مدت زمان کوتاه این کشور می تواند که معاشات پولیس و اردوی خود را از درآمد به دست آمده از این پروژه تامین نماید.
معین وزارت معادن و پطرولیم این کشور همچنان گفت که موجودیت نفت و گاز در حوزه افغان -تاجک در حدود ۵۶ سال قبل شناسای گردیده بود که بنابر مشکلات و تحولات در کشور افغان ها موفق به استخراج آن نگردیدند.
وی گفت:
بعد از چند سال نزدیک با استخراج نفت از این حوزه دیگر نیازی به کمک های بین المللی نخواهد بود چون ۶۰ درصد مفاد به دست آمد از استخراج نف و گاز این حوزه مربوط به دولت افغانستان بوده و ۴۰ درصد دیگر آن به شرکت های قرارداد شده تسلیم می شود:
"۶۰ مفاد این پروژه به دولت داده می شود که ۴۰ درصد آن به کمپنی ها داده می شود که یک سهولت است چرا که ما اگر امروز برق هم داریم از همسایه ها است با استخراج این نف و گاز مشکل کشور حل خواهد شد."
مسوولین شرکت قرارداد کننده عربی گفت که این شرکت ها از ۱۲ بلاک حوزه نفت و گاز افغان - تاجک تنها مسوولیت استخراج بلاک های مزارشریف و صندوقلی را دارند که مسوولیت استخراج نفت صندوقلی به دوش کمپنی ترکی و بلاک مزارشریف به دوش شرکت ملی نفت امارات متحده عرب می باشد و غضنفر گروپ در هر دو قسمت با شرکت های یاد شده شریک است.
حوزه نفتی آمو افغان - تاجک در شمال افغانستان "عمدتاً در ولایات تخار، کندز، بلخ و قسماً در ولایت جوزجان" موقعیت دارد که دارنده ۱۲ بلاک استخراج نفت و گاز بوده که تا حال تنها دو بلاک آن در بین ۹ شرکت به داوطلبی گذاشته شده بود که قرارداد آن رسماً از سوی مسوولین با برنده گان این داوطلبی سه شرکت افغانی، ترکی وعربی به امضا رسید.
به اساس گزارش وزارت معادن افغانستان که در دو بلاک استخراج نفت و گاز این حوزه ۵۱۴ میلیون بیرل نفت خام و ۹۱ ملیارد متر مکعب گاز طبیعی موجود می باشد که مسوولیت استخراج آن به دوش شرکت های غضنفر، ترکش پطرولیم و درایون آیل عربی می باشد.

دیدار جوانان حزب اسلامی شمال ...

پوهنخی ژورنالیزم پوهنتون بلخ، نورالحق عارف و محمد نور راشد از جوانان ولایت بدخشان به نماینده گی از جوانان سمت شمال در رابطه به ائتلاف و همبستگی حزب اسلامی و جمعیت اسلامی که بدون شک دارای فکر و اندیشه اسلامی هستند صحبت همه جانبه نموده آنرا یک گام کاملاً مؤثر و مفید که معقول در شرایط فعلی به حال مردم مسلمان افغانستان خوانده، آماده گی کامل خود را از این گام نیک، رهبری حزب اسلامی افغانستان اعلان داشته و افزودند که جوانان ولایات سمت شمال با کوشش شبا روزی و مبارزات پیگیر از این پروسه تا سرحد پیروزی و تحقق آرمانهای حزب اسلامی و ساختن یک حکومت اسلامی که ممثل اراده و آرزوهای دیرینه مردم مسلمان افغانستان باشد مبارزه خواهند کرد.
بعداً برادر محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان و وزیر اقتصاد دولت جمهوری اسلامی افغانستان تشریف آوری جوانان حزب اسلامی در سمت شمال را به دفتر حزب اسلامی خیرمقدم گفته خطاب به جوانان گفتند: شما و ما با اتحاد و همبستگی با جمعیت اسلامی و حزب وحدت اسلامی افغانستان تهداب مستعمر و عمارت اخوت و برادری را در افغانستان گذاشتیم، خدا کند که آغازی باشد برای به هم پیوستن تمامی اندیشه فکری و اسلامی در مبارزه علیه کفر و الحاد در افغانستان.
محترم عبدالهادی ارغندیوال طی سخنان خود افزودند: ما آرزوی ساختن یک حکومت صد در صد اسلامی را در افغانستان داریم برای تحقق این مرام جز راه اتحاد، برادری و همبستگی با احزاب و تنظیم های جهادی و اسلامی را نداریم که بدون شک برادران جمعیت اسلامی و حزب وحدت اسلامی دارای چنین هدف و مرام میباشند. اتحاد و برادری بین مسلمین است که پایه های کفر و الحاد و استعمار را در افغانستان به لرزه درمیآورد و آنها را نابود میکنند.
در اخیر محترم عبدالهادی ارغندیوال از جوانان حزب اسلامی در سمت شمال خواست تا در راه تقویه پایه های وحدت و برادری در بین جوانان بکوشند و در مقابل هر نوع تبعیض مبارزه جدی کنند و همبستگی برادری شان را حفظ نمایند.
ملاقات با دعائیه خیر و فلاح و پیروزی مسلمانان حوالی ساعت ۱۲ ظهر به پایان رسید.

97 | 0774707020